مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوري ۲۰۲۴/۰۶/۰۸

والاحضرت شهزاده احمد شاه وفات سو

خبر ده، چې د افغان آخرني پاچا، اعليحضرت محمد ظاهر شاه دوهم مشر زوی او ځای ناستی (وليعهد) احمد شاه خان د جون په څلورمه نيټه د متحده ايالاتو د ويرجينيا په ايالت کې د (۹۱) کلونو په عُمر وفات سو. انا لله و انا اليه راجعون

شهزاده احمد شاه ما يو ځلې د ۱۵ مترو په واټن کې وليد. ياره دا به د ۱۳۴۷-۱۳۴۹ل کلونه ول، زه تر لسو پورته په عُمر کې وم. هغه وخت زمونږ کور د کابل ښار جنوب ته د قلعه هوشمند خان د شکارګاه په ختيځه برحه د (قلعچه) په ممنوعه سيمه کې واقع ؤ. ځکه دغه ځمکې شوره رقمه او حاصل يې نه ورکاوه، نو ماليکنو يې په نسبتاً ارزانه بيه خرڅولې. زمونږ کور او زما د پلار د ډېر نژدې ملګري د جنرال مرحوم نيک محمد خان منګل سرای سره وصل ول او نور څو کورونه اغلباً زما د پلار د عسکري ملګرو بيا شاه او خواء سره جوړ شوي ول. زما په ياد دي، زمونږ د کور جوړولو په جريان کې به د کابل د بلديې مامورين راتلل، او د کور جوړولو ممانعت به يې کاوه، خو کله، به چې متوجه شول کور د يوه لوړ رتبه عسکري صاحب منصب (ډګروال)، مربوط ده، نو رويه به يې خواهشانه وله او زما پلار به ورته ويل، زه په کابل کې بل ځای کور نلرم، زه هم مجبور يم. حاکم سلطنتي خاندان به د پسرلي او اوړي پر وخت، خو هميش د مازيګر وخواء ته د پاچا او زامنو او ورسره خارجي مېلمنو په شمول سره، دغه ښکار ګاه ته راتلل او په هوايي فير به يې ايلی ويشتلي او د دغه عمل څخه به يې د نورو عياشيو ترڅنګ نورهم خوند اخيستلو. صورتحال به داسی ؤ، چې لومړی به د دربار د وزارت مربوط يو ټولی عسکرو چې سري رنګه پيک لروونکي خولی به يې په سر وی، هر عسکر دومره جګ او قوی لکه اوښان، دوی به د تاريخي بالاحصار له استقامته مخ په جنوب د ډنډ دغه جناح تفتيش او محاصره کړله او هر ژوندی لکه انسان او حيوان به يې له دغه ساحې وشړل. لويديځ د غره طرف ته به د روسي څلور وريزه جيپ موټرو ګزمه په سيار ډول موظفه وله. دا، چې په هغه امن زمان کې، ولې حاکم خاندان او پاچا دومره ډاربدل، دوی د خپل پلار هغه درز د وژلو يې د عبدالخالق خان له خوا، و خپلو سترګو ته مُجسم کاوه او يو بل ته يې د سخت احتياط کولو سپارشتنه کوله. پس ته به يو دم د ترافيکو د هارن او ګروپي اشارو دوه موټر په قير سړک راغلل او سړک به يې د غيره موټرو له تردد څخه تخليه کړ، څو دقيقې پس به د شاهي دربار مربوط موټران اغلباً (امريکايي شورلېټ تيز رفتار) په لوی سرعت مخ په بيني حصار ولاړل. البته د ښکار په بهير کې، يو ډله کشتي وانان د خپلو وړو کشتيو سره موظف ول د نلو په ځنګل کې وګرځي او ايلی ګاني والوزوي، تر څو هوايي فير ته برابري سي. دلته به مونږ هلکانو يو بل ته ږغ کړ، چې «هلی، چې اعليحضرت شکار ته راغلو...»، او مخ په کول مرغوي به ور رهي سولو. د ښکار کشتی کې به دري کسان مونږ ليدل. يو به د خاندان کس، بل کشتيوان، دريم سره به دوه ميله توپک ول، توپک کې به يې کارتوس تېر کړ، او تيار به يې خانداني کس ته تقديم کړ او هغه بل توپک به يې ورنه واخيست. مونږ هلکانو به يو بل ته ويل، دا اعليحضرت سړی ده؟؟ هغه بل به ويل، خدا؟!، هههه، بل به ويل، چې يو وار مو دا اعليحضرت ليدلای وای...؟!. مونږ هلکانو به غوشتل، شه نژدې د ډنډ ژی ته ورسو، ګوندې دا اعليحضرت له نژدې وويني، چې دا څه رقم ده، دا انسان ده که کوم بل ذات ده...!. خو د دربار وزارت عسکرو به سخت ممانعت کولو او سخت جدي به ول. يوه ورځ مازيګر، چې نوره د شکار فيرونه غلي شول، مونږ هلکانو ځانونه هغه ژېړ رنګه ډېر جذاب شورلېټ موټر ته ورنژدې کړل، کوم، چې سره د يوه ډرېور او بل ملکي کس ورسره انتظار او مخ په غرب يې ډنډ ځاره. پسته يو په قد جګ سړی په دري کسيزه کشتی کې رامعلوم سو. عسکرو مونږ په شاه وشړلوو خو مونږ هلکانو کې هم حيا نه وه او بيا به حتی المقدور

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موټر ته ورنژدي سولو. کشتی راغله او ورنه يو ځوان جذاب سړی، چې تور ويشتان يې پورته وهلي ول، تور کميس، تور بخونده عينکي، نصواري پطلون او پلاستيکي ډبرې اوږدې موزې يې اغوستې را کوز سو. رشتيا، چې ډېر جذاب ښکارېدلو، او مونږ هلکانو حيران حيران ورته کتل.... په کشتی کې دوه ميله شکاري ټوپک ښکارېدل. کشتي وان شکارسوې ايلی د پاچا زوی موټر ته راوړې او د موټرټول بکس کې يې واچولې. دغه وخت، دغه ملکي کس، چې سپين کالي، ژېړه قره قلي او کرتي کې ؤ، پاچا زوی احمد شاه سره په ډېر صميمت په خبرو او خندا بوخت ؤ. دغه کس د پاچا زوی څخه ايلی غوښتلې، مګر زه پوی نه سوم، چې پاچا زوی احمد شاه ورته څه ويل...؟! کله، چې د پاچا زوی موټر مخ په ارګ حرکت وکړ، دغه ملکي کس زمونږ خوا راغی. زمونږ هلکانو ورته وويل: ای آدم کې بود؟ هغه مونږ ته وويل: ای شهزاده احمد شاه بود نی...!

دا ؤ، د مرحوم والاحضرت احمد شاه خان په هکله يو د سترګو د ليد حال...، اما که موضوع د افغان ملت برخليک ته يې واړوو، نو خبره بيا ډېره لويه او له مسوولیته ډکه راخېږي. فکر وکړو دغه نادري خاندان د انګليس سره په تفاهم، په کوم چل او ول، زمونږ خدمتګار پاچا، اعليحضرت غازي امان الله خان (رح) ته فريب ورکړ او د بادشاهي مقام يې ورنه واخيست. اما حاکم خاندان پخپله (۴۹) يا نيم قرن امن درلودوونکي حاکميت کې د لويو بنسټيزو ملت پاله خدمتونو پر جای، ايله مونږ د افغانستان مظلوم ملت، دوو مصيبت زېږوونکو د ۱۳۵۲ل او ۱۳۵۷ل عسکري کودتاګانو ته په لاس ورکړلو او خپله کرار په خارج راته کېناستل. کنه نيم قرن د ګران او تاريخي افغانستان د هغه مهمو اقتصادي او ټولنيزو ترقياتو لپاره کافي زماني واټن ؤ. خو دا خاندان اصلاً بې رحمه، بې تفاوته او د افغان ملت په حق صادق نه ول.

دا موضوع هم دلته ذکر کوم، چې زما ليکونکي د دغه مضمون، لس کاله پخواء دغه د هجرت په سپک او سرګردان ماحول کې له يوې افغاني بې بې سره کتنه وسوله. هغې ماته د ګران افغانستان د وروستي (۵۰) کلن مصيبت او حوادثو په باب وويل: «زه د شاهي وخت د پوليسو د صاحب منصب ... خان لور يم. زما پلار ويل، ما د سردار داوود خان د کودتا، دري ورځې تر مخه شاهي ارګ مراجعه وکړله او په داسي حال کې، چې د سلطنت د مقام وکيل والاحضرت احمد شاه خان او ملکه حميرا سره ناست ول، ما عرض وکړ، چې داوود خان لګيا ده، عسکري کودتا ته تيارئ نيسي!» ملکي او وليعهد ماته وويل: «در مسايل خاندانی ما مداخله نه کنيد، متوجه وظيفه تان باشيد».

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ